safar

# په مسیح کې پاتې کېدل

## د ګټورتوب کلي

### د پیل ټکی

د ټولو نه ښه باغوان پېژنئ څوک دی؟
ستاسو په نظر، ولې باغواني له حاصله ډکه او ګټه وره ده؟
که تاسو د یو باغ د ساتلو مسئولیت ولرئ، د ټولو څخه لوی خطر به د هغه د سوکالئ دپاره کوم وي؟

### بحث او خبرې

د خدای په ټول کلام کې، زمونږ د روحاني ژوند د پاره د کرنې او بوټو په هکله ډېرې استعارې کارول شوي دي.
لکه څنګه چې په دې سفر کې د عیسی سره یو، په کومه طریقه دا استعارې له مونږ سره مرسته کوي، تر څو وکولای شو د ودې په پروسه او ګټورتیا يې پوه شو؟

### په کلام باندې تعمق او غور

عیسی د خپل ژوند د سفر په وروستېو ورځو کې په څمکه له خپلو شاګردانو سره ؤ، هغه د یو ګټور ژوند د لرلو د څرنګوالي دپاره د تاکونو د باغ استعاره وکاروله.
د یو بل سره یوحنا ۱۵: ۱-۱۷ ولولئ.

- د دې ایتونو سره سم، د یو ګټور ژوند کلي څه ده؟ ولې؟
- "د مسیح سره پاتې کېدل" په څه معنی ده؟
- څنګه په واقعی توګه د مسیح سره پاتې شو؟ دا موضوع زمونږ په ورځني ژوند کې څنګه ده؟
- په دې ایتونو کې کومو نورو شیانو ستاسو پام ځانته ته رااړوي؟

### اصلي مفکوره

"په مسیح کې پاتې کېدل" یعنی "په هغه کې استوګنه، په هغه کې ژوند کول او دوام ورکول".
پاتې کېدل د لږ وخت دپاره لیدنه یا د سر ورښکاره کولو سره فرق لري، په دې خاطر عیسی غوښتل چې شاګردان پوه شي چې ژوند کول له مسیح سره یوازې د خاصو ورځو په تړاو یا د مذهبي دندو سرته رسول یا د ځینو باورنو پوهېدل نه دی، بلکې خپلو شاګردانو ته یې بلنه ورکړه چې په دوامداره توګه د زړه له کومې له هغه سره ژوند وکړي، ترڅو د عیسی ژوند او قدرت په هغوی کې جاري شي او په پایله کې د زیاتې مینې لامل خوشحالي، سوله او د هغوی په ژوند کې د نورو لاسته راوړنو لامل شي.

### بحث او خبرې

یوه د هغو لارو نه چې کولای شو د عیسی سره پاتې کېدل تمرین کړو، دا ده چې، څه چې مو حاصل کړي دي، هغه ته وده ورکړو.
د سفر په دې نقشه کې، د ګټور ژوند دپاره مونږ ځیني مهم عناصر معرفي کړل. په دې خاطر چې په مسیح کې پاتې شو، هغه برخې چې مو په دې سفر کې زده کړې دي، باید دوام ورکړل شي.
مونږ یوازې ګامونه نه اخلو چې هغه سر ته ورسوو، بلکې هغوی تمرینوو او همداشان تمرینولو ته دوام ورکوو. هغه سریزو او سرلیکونو ته یو ځل بیا کتنه وکړئ، چې مونږ تر نن ورځې پورې د سفر په دې نقشه کې یو ځای تېر کړل.

- څه شی ستاسو دپاره ډېر ګټوردی؟
- په څه شي کې دوام ورکول، ستاسو دپاره ډېراسانه دی؟
- په څه شي کې دوام ورکول، ستاسو دپاره ډېرسخت دی؟

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved

safar

- څه شی ستاسو د دوام ورکولو او پایښت مخه نیسي؟
- څنګه کولای شئ تمرین کولو ته دوام ورکړئ؟

## همدا اوس په ګډه تمرین وکړئ.

کله چې تاسو شا ته ګامونو ته وګورئ، دې ته اړتیا لرئ چې کومې برخې قوي کړئ او وده ورکړئ؟
دا لینک "اوس د یو بل سره تمرین کړئ" د ټولو برخو لنډیز په هر ګام کې تاسو ته درکوي.
یو له هغو برخو څخه چې غواړئ په هغه برخه کې قوي شئ، پیدا کړئ او بیا په ګډه هغه تمرین کړئ.

## هره ورځ خپل تمرین تکرار کړئ.

- د بیا کتنې دپاره یوه برخه "اوس د یو بل سره تمرین کړئ." وکاروئ. د هغو نه یو شی وټاکئ او هره ورځ یې تمرین کړئ.
- د چوپان او یا هغه ایمانداره کس چې په مسیح کې یې وده کړې ده (البته څوک چې له تاسو سره په سفر کې نه وي) پوښتنه وکړئ چې څنګه هغوی په مسیح کې پاتې کېدل، ساتئ شي.

Copyright © Elam Ministries 2022. All rights reserved